Information Classification: CONFIDENTIAL

# د کورنوال په اړه معلومات



Information Classification: CONFIDENTIAL

# کورنوال څه شی دی




کورنوال یوه داسي کاونټي ده چې ډېرې حاشيې، د
سمندرې غاړې او کوچني ښارګوټي لري. د کورنوال
مرکزي ښار ترورو دی چې یو کوچنی ښار دی.

د کورنوال په ځینو نورو مشهورو ښارګوټو کې نیواکوې،
سنټ اوسټېل، پینزانس، بودمېن او فالموت شامل دي.

کورنوال د سیاحانو لپاره خورا مشهور ځای دی چې په
رخصتیو کې ورته راځي. ډېری خلک فکر کوي چې
کورنوال ډېر دوستانه دی. دا یو خوندي ځای دی.
کورنوال د ځایي هویت یو پیاوړی حس او خپله ژبه لري،
که څه هم په پراخه کچه په دې ژبه اوس خبرې نه کیږي.

Information Classification: CONFIDENTIAL

# تر پالنې لاندې ماشوم

- که ستاسو عمر له 18 کلونو څخه کم وي، نو په برېتانیا کې ماشوم ګڼل کیږئ. کله چې له تاسو سره مو والدین نه وي چې پام دربانديې وکړي، نو ځايي اداره پر تاسو پام کوي او تر پاملرنې لاندې مو نیسي.
- اوس چې تاسو په کورنوال کې د یوه ماشوم په توګه ژوند کوئ، تاسو به زده کړې، روغتیاپالنې، استوګنځي او مالي مرستې ته لاسرسی ولرئ.
- په +16 تیم کې ستاسو کارکوونکي غواړي له تاسو سره مرسته وکړي تر څو دلته له خپلو ملګرو، بوختیاوو او ستاسو شا و خوا ټولنه کې ښه ژوند وکړئ.
- تاسو باید تر هغې پورې په کورنوال کې ژوند وکړئ چې عمر مو 18 کلنۍ ته ورسیږي او د پناه غوښتنې د درخواست په اړه مو پرېکړه وشي: بیا تاسو کولای شئ خپله پرېکړه وکړئ چې د برېتانیا په کومه برخه کې ژوند کوئ او په دې برخه کې به موږ له تاسو سره ډېره مرسته وکړو.

# له تاسو سره څوک مرسته کوي

**ټولنيز کارکوونکی:**

ستاسو ټولنيز کارکوونکی دلته دی تر څو تاسو خوندي وساتي، له تاسو سره مرسته وکړي او ستاسو د مسير پلان وليکي چې په دغه پلان کې به ټول جزئيات ذکر شوي وي چې ځايي اداره له تاسو سره د استوګنځي، روغتيايي اړتياوو، ستاسو د کډوالۍ د درخواست، ستاسو د زده کړې، ټولنيزو فعاليتونو او کلتوري اړتياوو په برخه کې مرسته وکړي. ستاسو ټولنيز کارکوونکی له هغو ټولو اشخاصو سره همغږي را منځته کوي چې له تاسو سره مرسته کوي تر څو ډاډ حاصل شي ټول په ګډه کار کوي. تاسو يو ټولنيز کارکوونکی لرئ، تر هغې چې 18 کلن شئ.

**شخصي سلاکار:**

ستاسو شخصي سلاکار به له تاسو سره تر هغې پورې کار وکړي چې تاسو 21 کلن يا 25 کلن شئ، ستاسو شرايطو ته په پام سره. هغوی له تاسو سره مرسته کوي تر څو د راتلونکي لپاره پلان جوړ کړئ او تاسو ته سلا مشوره درکوي، مرسته درسره کوي او لارښوونه درته کوي. هغوی بايد له تاسو سره مرسته وکړي چې د راتلونکي لپاره چمتو شئ او ډاډ حاصل کړي چې د وخت په تېرېدو سره کله چې تاسو لويېږئ، دا زده کوئ چې چارې څه ډول ترسره کړئ.

**د هوساينې په برخه کې مرستندويه کارکوونکی:**

ستاسو مرستندوی کارکوونکی د يوه خيريه بنسټ له لورې د دې لپاره ګومارل شوی دی چې تر پالنې لاندې ماشومانو سره مرسته وکړي. هغوی له نورو پناه غوښتونکو ماشومانو او به پراخه کچه ټولنه کې د فعاليتونو اسانتيا را منځته کوي. هغوی له ټولنيزو کارکوونکو او شخصي سلاکارانو سره مرسته کوي تر څو له تاسو سره مرسته وکړي، په ځانګړې توګه کله چې تاسو نوي ياست او ستاسو لپاره ډېر کارونه وي چې بايد تنظيم يې کړئ. هغوی له تاسو سره مرسته کوي تر څو په کورنوال کې په فعاليتونو کې ښکېل شئ تر څو له تاسو سره مرسته وکړي چې هلته ژوند جوړ کړئ. هغوی داسې څوک دي چې تاسو کولای شئ خپلې هر راز اندېښنې ورسره شريکې کړئ.

# ستاسو د پناه غوښتنې درخواست

کله چې تاسو کورنوال ته ورسېږئ، ستاسو ټولنیز کارکوونکی به ستاسو په رضایت د کډوالۍ له یوه سلاکار سره یوه لیدنه تنظیم کړي. سلاکار داسې شخص دی چې له تاسو سره به مرسته کوي او ستاسو د پناه غوښتنې په درخواست کې به ستاسو استازولي کوي.

تاسو به له خپل سلاکار سره لیدنه ولرئ، هغه به په دې اړه د ګواهۍ د بیانیې فورم (SEF) ډک کړي چې تاسو ولې د پناه غوښتنې حالت لپاره درخواست کوئ. بیا به تاسو په کورنیو چارو وزارت کې یوه مرکه ولرئ، ځکه چې یاد وزارت ستاسو د درخواست د ارزونې مسوولیت لري. په مرکه کې به هغوی له تاسو څخه هغه پوښتنې وکړي چې ستاسو د SEF له لوستلو څخه یې اخیستې وي. هلته به یو ژباړن موجود وي تر څو ډاډ حاصل شي چې تاسو په بشپړه توګه مکالمه کولای شئ.

Information Classification: CONFIDENTIAL

# ستاسو د پناه غوښتنې د درخواست په اړه فکر کول...

له بده مرغه د پناه غوښتنې پروسه ډېر وخت نیسي او موږ تل د زماني محدودې په اړه ورانديني کولای نشو.

په ورته وخت کې هڅه وکړئ چې په دې اړه له ډېرې اندېښنې څخه ډډه وکړئ او په کورنوال کې په خپل ژوند تمرکز ولرئ.

هر څوک چې له تاسو سره کار کوي تر خپل وس مطابق به خپله ډېره هڅه وکړي، د سلاکار په ګډون چې د دې لپاره کار کوي تر څو ستاسو درخواست بریالی کړي.

تل هڅه وکړئ چې د هر راز اندېښنو او خپګانونو په اړه چې کېدای شي د دې بروسې په اړه درسره وي، له خپل ټولنیز کارکوونکي سره خبرې وکړئ؟ تاسو همدارنګه کولای شئ چې د کډوال د شورا د ماشومانو له پلانوي څخه د خپلواک وکیل غوښتنه هم وکړئ.

# په برېتانيا کې بيړني خدمتونه

- پولیس -- په برېتانیا کې پولیس خوندي خلک دي، تاسو کولای شئ د خپلو اندېښنو په اړه له هغوی سره خبرې وکړئ او هغوی به له تاسو سره مرسته وکړي. مګر تاسو باید په برېتانیا کې قوانین مراعات کړئ، که نه نو و به نیول شئ. موږ به له تاسو سره مرسته وکړو چې په برېتانیا کې پر قوانینو پوه شئ او تاسو به ستاسو ځایي پولیس افسر ته ور وپیژنو.
- امبولانس/روغتون -- که چېرته تاسو په برېتانیا کې د ژوند ګواښونکی تپ یا درد لرئ، نو کولای شئ چې د خپل موبایل له لارې د 999 شمېرې په دایلولو سره امبولانس ته زنګ ووهئ تر څو تاسو نږدې روغتون ته یوسي. له تاسو څخه به ستاسو د نوم او موقعیت پوښتنه وشي.
- ستاسو ټولنیز کارکوونکی، شخصي سلاکار او مرستندوی کارکوونکی له دوشنبې څخه تر جمعې پورې د سهار له 8.45 څخه د مازدیګر تر 5:15 بجو پورې په کار کې دي. تاسو د بیړني حالت لپاره د شپې او رخصتیو پر مهاله له کاري ساعتونو څخه بهر خدمت هم لرئ.

له کاري ساعتونو څخه بهر شمېره عبارت ده له: 01208 251300



# د برېتانيا مهم قانون



- په برېټانیا ځې ستاسو لپاره د الکولو او سګرټو پیرل غیرقانوني دي
  تر هغې چې تاسو د 18 کلنۍ عمر ته ورسېږئ. تاسو په ډېری سرپټو ځایونو کې سګرټ نشئ ځکولای.
- تاسو کولای شئ د نژاد پالنې په اړه کوم کارکوونکي يا پولیس ته خبر ورکړئ او دا به خورا جدي وګڼل شي.
- په برېټانیا کې د جنسي رضايت عمر 16 کاله دی. که چېرته ستاسو عمر له 16 کلونو څخه کم وي، دا غیرقانوني ده چې جنسي اړیکه تینګه کړئ؛ که مو عمر لوړ وي، نو دا غيرقانوني ده چې له 16 کلنۍ څخه کم عمره شخص سره جنسي اړيکه ټيګه کړئ؛ يا داسي شخص ته جنسي انځورونه واستوئ يا يې تري ترلاسه کړئ چې عمر يې له 18 کلونو څخه کم وي. او په ياد ولرئ، حتی که چېرته تاسو دواړه له 16 کلونو څخه ډېر عمر ولرئ، په جنسي بڼه د کوم چا لمس کول غیرقانوني دي مګر دا چې تاسو پوهېږئ هغه بل لوری په دې کار راضي دی.
- تا نباید موټر وچلوئ مګر دا چې د موټر چلونې جواز ولرئ او تاسو باید یوه ازموینه ورکړئ. کله چې تاسو 17 کلن شئ په برېټانیا کې د موټر چلول زده کولای شئ، مګر تاسو باید د موټر چلوني لنډمهاله جواز ته نوم لیکنه وکړئ (یوازې په هغه صورت کې ممکن دی چې تاسو د پاتې کېدو لپاره اجازه ترلاسه کړې وي).

# ستاسو کور

**پالنه:**

که چېرته ستاسو عمر له 16 کلونو څخه کم وي، یا 16 کلن یاست خو لا هم په ښوونځي کې یاست، تاسو به د یوې کورنۍ له لویانو سره اوسېږئ او هغوی به پر تاسو پام کوي.
هغوی به تاسو ته خواړه چمتو کړي او مرسته به درسره وکړي چې په کورنوال کې خپل ژوند تنظیم کړئ.

**مراتړ شوي استوګنځي:**

که چېرته ستاسو عمر له 16 کلونو څخه لوړ وي، نو په داسې یوه کورنۍ کې به ځای پر ځای شئ چې لږ تر لږه یو لوی شخص پکې وي او هغه به خپل کور ته ستاسو هرکلی وکړي او په ورځ کې به یو وخت خواړه درکوي. دغه لوی شخص به د دې لپاره وي چې تاسو ته د مرستې لاس درکړي تر څو تاسو خپلواک شئ.

**د روزنې اپارتمانونه:**

دا تاسو ته فرصت درکوي چې ډېر خپلواک شئ. هلته به تاسو یوازې ژوند کوئ،

ځینې وخت له نورو ځوانانو سره په یوه ودانۍ کې تر پالنې لاندې ژوند کوئ او هغوی به د بېلا بېلو مخینو لرونکي وي.

دا به د ژوند په لومړنیو توکو سمبال وي تر څو تاسو وکولای شئ هلته په هوسایني سره ژوند وکړئ.



*په کورنوال کې د استوګنې محدود غوراوي موجود دي مګر غوښتنې ورته

د ځای پر ځای کېدو ډېرې دي. هر چېرته چې ځای موجود وي، موږ به تاسو هلته ځای پر ځای کړو، مګر موږ به خپله ټوله هڅه وکړو

تر څو ډاډ حاصل کړو چې تاسو په خورا مناسب ځای کې ژوند وکړ*

Information Classification: CONFIDENTIAL





# موږ په دغو برخو کې مرسته کوو...

روغتیا:

- کله چې تاسو را ورسیږئ، یوه روغتیایي معاینه به مو ترسره شي. ډاکتر به ستاسو په رضایت ستاسو د ټول بدن معاینات ترسره کړي.
- تاسو به همدارنګه د نري رنځ معاینې ته راجع شئ
- تاسو به له یوه ځایي ډاکتر سره راجستر شئ (عمومي ډاکتر).
- تاسو به د غاښونو د ډاکتر د انتظار په لېست کې اضافه شئ یا به مرسته درسره وشي چې د غاښ درملنه مو وکړئ، که چېرته عاجله وي.
- تاسو به فرصت ولرئ چې یو غوراوی وګورئ.
- موږ کولای شو تاسو بروک ته راجعه کړو ځوک چې کولای شي له تاسو سره د جنسي روغتیا په برخه کې مرسته وکړي که چېرته تاسو غواړئ په دې اړه له کوم چا سره وګورئ www.sexualhealthcornwall.co.uk
- موږ به له تاسو سره مرسته وکړو چې په یوه جیم کې نوم لیکنه وکړئ که چېرته تاسو غواړئ او/یا پر نورو فعالیتونو غور وکړئ.

# ... موږ به همدارنګه په دغو برخو کې له تاسو سره مرسته وکړو:




زده کړه:

- په برېتانيا کې تاسو بايد تر 18 کلنۍ پورې زده کړه وکړئ.
- که چېرته تاسو اړتيا لرئ، نو له تاسو سره به مرسته وکړو چې انګليسي د نورو ژبو ويونکو لپاره پروګرام کې ګډون وکړئ.
- تاسو د کالج په عمر کې له 17 څخه تر 19 کلنۍ پورې، کله چې تاسو په کافي اندازه انګليسي ژبه زده کړئ، نو بيا خپل مضامين ټاکلای شئ. په ثانوي ښوونځي کې له 11 څخه تر 16 کلنۍ پورې، زده کوونکي يو لړ مضامينو ته پوښښ ورکوي.
- تاسو ته به يو بس پاس درکړل شي تر څو کالج ته پرې لاړ شئ او بېرته راشئ.



# پیسې

- دا چې تاسو څومره پیسې ترلاسه کوئ، دا په دې پورې اړه لري چې تاسو چېرته ځای پر ځای شوي یاست او څومره پیسو ته اړتیا لرئ.
- کله چې تاسو تر سرپرستۍ پالنې لاندې یاست، د جیب خرچه به ترلاسه کوئ او ستاسو سرپرست والدین به داډ ترلاسه کړي چې تاسو نور د اړتیا وړ کافي شیان لرئ.
- که چېرته تاسو په ملاتړ شوي استوګنځي یا روزنیز اپارتمان کې اوسېږئ، نو تاسو ته به اونیزه شخصي تنخواه در کول کېږي چې باید د خوړو، جامو، د حفظ الصحې وسایلو او نورو لومړنیو توکو لپاره وکاروئ.
- که چېرته تاسو کوم ملګری یا د کورنۍ غړی لرئ او غواړئ چې ورسره وګورئ، نو کولای شئ چې له موږ څخه غوښتنه وکړئ. موږ ګورو تر څو ډاډ حاصل کړو چې هغوی خوندي دي او بیا به موږ هوکړه وکړو چې ستاسو د سفر لګښت درکړو: مګر یوازې د کالج په رخصتیو کې.